(٤) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارۀ مسلسل (۹۱۲) سال هفدهم - شمارۀ (۱۵۰) سه شنبه (۲۳) حوت ۱۳۷۳ هـ ش (۱۳) شوال المکرم ۱۴۱۵ هـ ق - ۱٤ مارچ ۱۹۹۵ م

قیمت (۱۵۰) افغاني (۲ روپیه)

دمولانا فضل الرحمن ماموریت ناکام شو

پیښور - دکب ۲۲ مه :

دجمعیت العلما ، اسلام فضل الرحمن ګروپ مشر مولانا فضل الرحمن تیره ورځ دطالبانو ملګروسره یوځای دکابل نه خپل هیواد ته ستون شو .

دنواي وقت ورځپاڼي دخبریه اساس ؛ مولانا فضل الرحمن چي داستاد رباني په ځانګړي دعوت کابل ته سفرکړي و اوغوښتل ئي چي دطالبانو اورباني قواو ترمنځ روغه جوړه راولي په ناکامي سره بیرته ستون شو .

مولانافضل الرحمن په کابل کي داستاد سیاف ،استاد رباني اواحمدشاه مسعودسربیره دطالبانوله مشرانوسره هم په مفصله توګه خبري کړي وي خوبریالي نشو چي دطالبانو اورباني ترمنځ روغه وکړي ځکه چي طالبانو په خپلو اعلان شویو شرایطو ټینګارکاوه .

کروات ها ومسلمانان باتشکیل فدراسیون بخاطر مقابله با صربها توافق نمودند .

سرایبو ۲۳ حوت .

کروات ها ومسلمانان باتشکیل یك فدراسیون براي مقابله با نیروهاي صرب به توافق رسیده اند.

به گزارش خبرگزاري ها براساس این توافق نیروهاي پولیس و دولت هاي محلي دوطرف در چار چوب فدراسیون یك پارچه خواهند شد وسپس وحدت اردوهاي دوطرف تحقق خواهد یافت .

خبر دیگر حاکیست که صدراعظم بوسنیا طي سخناني در اجلاس جهاني توسعۀ اجتماعي سازمان ملل درکوپن هاگن گفت:دولت بوسنیا آتش بس جاري راپس ازانقضاي آن تمدید نخواهد کرد .

وي تلاش هاي بین المللي براي حل مسلۀ بوسنیا را بي ثمر خواند ومتذکر شد که تاکنون هیچ نتیجه اي ازمذاکرات حاصل نشده است.

وي تمدید آتش بس اعلان شده در نبرد بوسنیا را قانوني کردن اشغال سرزمین بوسنیا توسط صربها دانست وآنرا حیله اي براي ادامه نسل کشي خواند .

توسط گروه طالبان :

استاد عبدالعلی مزاری رهبرحزب وحدت اسلامی به شهادت رسید

انا لله وانا الیه راجعون

غزني - ۲۲ حوت :

باتأسف وتأثرفراوان اطلاع یافتیم که استاد عبدالعلي مزاري رهبر حزب وحدت اسلامي روزگذشته توسط گروه طالبان درغزني به شهادت رسید .

گزارش رسانه هاي خبري واخبارواصله ازولایت غزني ضمن تائید این خبر حاکیست، استاد عبدالعلي «مزاري» پس ازآنکه چند روزمتواترمواضعش توسط نیروهاي ادارۀ کابل هدف حملات شدید زمیني وهوایي قرار گرفت ،بخاطرنجات ازمحاصره فیصله کرد که نیروي طالبان میان هردوطرف حایل واقع گردیده ، جلو ادامۀ حملات رابگیرند . پس ازین موافقتنامه نیروهاي طالبان ازطریق ساحات تحت کنترول حزب وحدت داخل کابل شده و بانیروهاي ادارۀ کابل تصادم کردند . درنتیجه حمله شدید روزشنبه ، آقاي مزاري سنگرهاي خودرا به طالبان تخلیه کرد . بعداً طالبان بالاي منزل اوهجوم برده ووي را ازخانه اش خارج ساخته به چهارآسیاب آوردند وازآنجابه غزني انتقالش دادند. خبرحاکیست که

ص(۳)

دطالبانو دولي ویاند ملاخیرالله ادعا کوي :

دفراه ولایت په بشپړه توګه تصفیه شوی

دکب ۲۲

دکابل اوفراه دجګړو په اړوند دطالبانو ویاند ملاخیرالله وویل درباني جابرانه حمله پرطالبانو باندي . نه یواځې دطالبانو بلکه دافغانستان دټول ملت وینه ئي په جوش راوستلي ده اودهغه په بدله کي نه یواځې طالبانو دهغوي وسله وال له سنګرونوڅخه په شاکړي بلکه ددوي زیات شمیر یې اسیران کړي هم دي.

ده وویل موږ ان شاء الله دکامیابي په حال کي یو. ملاخیرالله ددي پوښتني په ځواب کي چي آیاتاسي دکابل حکومت سره یواځې جنګیږي اوکه دنوروتنظیمونو څخه مرسته غواړئ اوویل : درباني ددغه جابرانه حملې په وجه دافغانستان ټول ملت پاریدلي دي ده زیاته کړه : طالبانوله پیله ویلي چي دهیڅ یوتنظیم څخه به داسي مرسته ونه غواړو چي دتنظیم په حیث باندي وي بلکه دابو مستقل

(۲)مخ

هیئت افغاني صلح سازمان ملل طرح تشکیل حکومت مؤقت را اعلان کرد

کابل - ۲۲ حوت :

هیئت افغاني صلح سازمان ملل که درکابل به سرمبیرۀ طي بیانیه ئي ازکوشش هایش براي پایان دادن به درگیري هاوانتقال قدرت پرده برداشت .

عبدالستار سیرت درین زمینه طي مصاحبه اي اظهارداشت : به توفیق خداوند(ج) هیئت افغاني موظف جهت آماده گي براي انتقال قدرت وتشکیل حکومت مرقت درافغانستان ازآغازتشکیل آن درکابل تاحال ازطریق مفاهمه ، مشوره ومذاکره باجوانب مختلف قضیه به کارخود ادامه داده است . هیئت موظف مطالعات ومساعي خودرا درین مرحله کارخود به صورت ذیل به اطلاع هموطنان گرامي تقدیم میدارد

ص(۳)

دیپلومات هاي پاکستاني کابل را ترك کردند

کابل - ۲۲ حوت :

به علت شدت جنگ ودرگیري میان نیروهاي متخاصم درکابل کارمندان سفارت پاکستان مقیم این شهرروزیک شنبه وارد جلال آباد شدند .

طبق گزارش، قاضي همایون سفیرجدید پاکستان مقیم کابل که روزشنبه به اسلام آباد برگشته بود، اظهارداشته که ساختمان سفارت پاکستان درکابل درمنطقه اي ازشهرقراردارد که بیشتر هدف آتشباري راکت وتوپخانه قرارمیگیرد . وي که

ص(۳)

په اسلام آباد کی دایکو په غونډه کی ربانی دافغانستان نمایندګی‌نشي کولای

دزابل ولایت والي ملا عبدالغني حقاني

پیښور - دکب ۲۲ مه :

دطالبانودتحریک یوتن مشر اودزابل ولایت والي ملاعبدالغني حقاني دیوي راډیويي مرکي په ترځ کي دطالبانودتحریک په باب وویل : ټولو مسلمانانوته واضحه ده ، چي دطالبانو تحریک دافغانستان دخلکوتحریک دي، دافغانستان دعوامو مسلمانانو له طالبانوسره ملګرتیاده اوپه دي تحریک کي دافغانستان ټول طلبه ګډون لري اوهرسړي کولاي شي، چي دي تحریک سره خپله ملګرتیا اعلان کړي .

ددي پوښتني په ځواب کي چي پاکستاني واکمنو رباني داسلام آباد په غونډي کي دګډون له پاره دعوت کړي

(۲) مخ

حرکت انقلاب اسلامي د یوې اعلامیې په ترځ کي

دحرکت انقلاب اسلامي ټولو اراکینو له دولت سره عملي مقاطعه وکړه

پشاور - دکب ۲۲

دحرکت انقلاب اسلامي مشرمولوي محمدنبي محمدي درباني دویاند حبیب شاه ددي خبري په اړوندچي دخه داپریکړه چي ددولت سره ئي مقاطعه اعلان کړي دهغه شخصي فیصله ده اودحرکت انقلاب اسلامي پوري اړه نه لري. دیوي مرکي په ترځ کي وویل: چي درباني دویاند داخبره دحقیقت نه لري ده . په دې اړوند دحرکت انقلاب اسلامي

(۳)مخ

دکابل اداري د وسله والو افرادو دلوټ ماریو اوناروا تیریو په اړوند :

دکابل ښار دغربی سیمو اوسیدونکو دمظلومیت چیغی آسمان ته پورته شوی

• ما په کارته سه اوکارته چهار کی داسی وسله وال ولیدل چی دومره دلوټ مالونه یی په شا کړی وو چی په لاره نشوای تلای

د بي بي سي خبریال

• پنجشیریانو ویل ، مونږ دهزاره ګانو وینې څښو

غیبه

• دسبحو په عفتونو دتیري راپوورونه تائید شوي

پیتر ګریس

• داړول پېښې داقلیتي تاوتریخوالي نتیجه ده خودمجرمینونیول محال دي

دکابل د اداري ویانه

• پرطالبانو د رباني د قواوجابرانه حمله نه یواځې طالبان بلکه دافغانستان ټول ملت راپاروولي

ملاخیرالله

کابل - دکب ۲۲ :

دنظارشورا، اتحاد اسلامي، حرکت اسلامي اوداکبري وسله والو کسانوپرون هم په دوهمه ورځ دکابل په څنوسیمو کي دطالبانوسره په جګړوکي هردول درندي وسلې اووژونکي توغندي یوډبل پرسنګرونوتوغول ، چي زیاتره ئي دخلکوپه هستوګن ځایونوکي ولګیدل .

دنظارشورا دوسله والو ویاند پروني جګړي دهغوڅوګرخه ویلله چي طالبان دکابل ښاراوځیرموسیمو څخه دومره په شاوتمبوي چي دهغوي راکټونه کابل ته ونه رسیږي؛ خوطالبانوهم ددوي مقابله وکړه او ددوي توپونو دوزو په مقابل کي دخپلو توغندیو خولي خلاصي کړي دي

(۳)مخ

حکمتیار دجهاد سترمشر دی چي ډیري ستري جهادي کارنامي یي ترسره کړي

استاد رباني

کابل - دکب ۲۲ مه :

دجمعیت اسلامي مشر استاد برهان الدین رباني په کابل کي دجمهوري ریاست په ماڼي کي بهرنیوخبرنګارانوسره په مرکه کي

(۳)مخ

ربانی درمورد کناره گیری از قدرت موافقه نموده است

کابل - ۲۲ حوت :

استادرباني رئیس اداره کابل موافقت نمودکه هفته آینده ازمقامش کناره گیري میکند .

به گزارش خبرگزاري هامشاورسیاسي بطروس غالي ضمن اعلان این خبر افزود، رباني زمام اموررابه یک شوراي انتقالي واگذارخواهدکرد ، وي درین مورد تفصیلات بیشتري نداده است .

درخبرآمده است که تاحال اداره کابل این خبررا ردیاتائید نکرده است . اما درگذشته بارها استادرباني اظهارداشته که وي حاضراست قدرت را به یک اداره بیطرف تسلیم نماید .

یک منبع ملل متحد درقضیه افغانستان گفته است که تشنجات اخیردرکابل ضرب الاجل انتقال قدرت را ازرباني به اداره بیطرف مشکل نموده است .

ژیرونوفسکي د روسیي د لبرال دموکرات ګوند مشر ، دشپیګل آلماني مجلي سره په مرکه کي :

دچیچن جګړه دوامداره ده مونږ به یی لس کاله پرمخ بیایو

• روسیه دیته ضرورت نلري چي محبوبه شي ، خپل د ډار خیره باید ښکاره کړي اودنیا هم باید له روسیي څخه ویره ولري

• که زه واي د ګروژني په ښار به مي سل داسي بمونه غورځولي واي چي ښار له خلکو خالي شوي واي

• که قومانده ځما په لاس واي نو په ګروژني به مي داسي بم خلاص کړي واي چي نه تني نه لاشونه اونه هم سپیان پاتي واي

وآلمان یوي مشهوري مجلي شپیګل دروسیي لیبرال دیموکرات ګوندمشر سره دچیچنیا دوضعي په اړوند مرکه کړي چي دهغي څیني ټکي دورنولوستونکومطالعي لپاره خپروو :

(اداره)

شپیګل : دګروزني په کوڅوکي دروسي عسکرو ټني اولاشونه دګرګي سپیانوخوړل کیږي اوبیادکشولوپه وجه ټوټي ټوټي کیږي؟

(۲) مخ

د جنبش ملي ویاند :

اوس دملګرو ملتونو په پلان کي بدلون راغلي دي

مزارشریف - دکب ۲۳ :

دملګروملتونو دخاص استازي مرستیال سانتوس دهغي ځلورکسیزي ولي سره چي دموقت عبوري حکومت له پاره تاکل شوي وو په مزارشریف کي دجنرال عبدالرشید دوستم سره خبري کړي دي .

دسانتوس سره عبدالستار سیرت ، عبدالاحد کرزي ، سلطان محمود غازي او عبدالحکیم کتوازي هم ملګري دي.

دخبري منابعو د رپوټ له مخي دجنرال عبدالرشیددوستم مطبوعاتي ویاند جنرال یوسف په دي اړوند وویل چي دملګروملتونوپه پلان کي اوس بدلون راغلي دي . دي وایي هغه لست

(۳)مخ

سرمقاله

« منهای حزب اسلامی نهضت اسلامی درافغانستان ختم می شود »

پس ازسه سال اختلاف وکشمکش حالا عده اي ازبدخواهان حزب اسلامي راعقیده برآنست که حزب رمز بقا، نیرومندي وافتخارنهضت اسلامي است وبدون آن این حرکت الهي ختم مي شود. شاید آقایون این حقیقت راقبلاً هم مي دانستند ،ولي پرده هاي ضخیم عناد وجاه طلبي بردل ودماغ آنهاسایه افگنده بودواین احساس مانع آن مي شدکه به این حقیقت اعتراف نمایند وحتي براي تضعیف ،تحقیر وبالاخره برداشتن این جریان الهي ازصحنه ازتوسل بهرتلاش رواوناروایي اباننورزیدند. ولي حالاکه خلاف اتهامات نادرست آنهاحزب اسلامي ازخط اول جنگ گوشه گیري اختیارنموده وعناصر وحلقات زورگووخودخواه رادربك چلنج غیرمنتظره قرارداد . اگرحزب اسلامي تااینجم عامل جنگ وبحران کشوربود ،پس چرابعدازیکماه کناره گیري مجاهدین حزب ، اسباب وانگیزه هاي بحران وکشمکش زدوده نشدومردم مظلوم کابل همچنان درشعله هاي جنگ مي سوزند، خانه هاي شان غارت مي شود، ملکیت هاي شان غصب مي گردد وبه ناموس شان تجاوز صورت مي گیرد .

پس ازآنکه حقانیت موضع حزب اسلامي به ملت مسلمان افغانستان به اثبات رسیدو خلاف ادعااین حقیقت روشن گردیدکه حزب اسلامي عامل جنگ نبوده بلکه این حزب ازآغاز تاالحال هدفي جز اقامۀ حکومت اصیل اسلامي وحصول استقلال وتأمین امنیت وتمامیت ارضي کشورنداشته است . همزمان بااین انتباه ملت ازحزب اسلامي، عده اي ازبدخواهان سابق حزب اسلامي طوعاً وباکرهاً سرعقل آمده وحالا به زبان قال زمزمه مي کنندکه منهاي حزب اسلامي نهضت اسلامي درافغانستان ختم مي شود. آنهابه این نتیجه رسیده اندکه طرح هاوپیشنهادات معقول حزب رالبیك گفته وبراي نجات کشورازبحران خانمان سوز فعلي دست مجاهدین حزب اسلامي رابفشرند .

حزب اسلامي که بدون حضورش مصیبت هاي بیشتري دامنگیرملت خواهدشد، براي ختم بحران کنوني حاضراست باتمامي طرف هاي درگیر داخل مذاکره شود. طرح هاي خودرا به سمع آنهابرساند وبراي تحمیل آن بهرفداکاري و تنازلي تن دردهد، به شرط آنکه طرف هاي مذاکره کننده منهاي حیله گري ودوروئي برخورد نمایندوبا اخلاص وصداقت ،به گفتگو بنشینند .

زیرا درعرصۀ سه سال تجربه نشان داده که هرگاهي که یکطرفي به مشکلي مواجه شده ویاازیك جانبي تحت فشارقرارگرفته ، بسوي حزب اسلامي دست آشتایي وهمدردي درازنموده وهرگاهي که آن مشکل مرفوع گردیده ، بازهم بااتخاذ روش گذشته هرکه براهش روان گردیده وبحران کمافي السابق سرجایش باقي مانده است . دیده شودکه بازهم آقایون همین روش را اختیارمي کنند یاباتوبه وانابت ازگناهان گذشته بااخلاص داخل اقدام مي شوند ؟!

خلع سلاح مجاهدین

مطلب دیگري که درین روزها زیاد مورد بحث است ، مسألۀ خلع سلاح مجاهدین است که حداقل پانزده سال باقشون جنایتکارروس وعمال مزدور آنها به پیکارمقدس پرداختند و درنتیجۀ آن نه تنها رژیم دست نشاندۀ روس ازافغانستان زایل شده بلکه امپراطوري کمونیزم باسازوبرگ نظامي آن که نیمي

ص(٤)

سخن روز

د استاد مزاري شهادت

پر روانو جنګونو ديوي بلي جګړي زياتيدنه

په خواشیني سره مو خبر تر لاسه کړ چي د وحدت اسلامي ګوند قهرمان اومجاهد مشر استاد عبدالعلي مزاري د يوي غير اسلامي ، غير پښتني اوشرميدلي توطئي په نتيجه کښي په شهادت ورسول شو. استاد عبدالعلي مزاري د تيري شنبي په ورځ دهغه توافق له امله چي د دولت پرخلاف يې له طالبانو سره کړي و چي له دولت سره دجګړي لومړي کرښي له خپلو ځواکونو تخليه اوطالبانو ته پريږدي ، خو متأسفانه چي د طالبانو دځواکونو له خوا له يوشمير نورو ملګريو سره په ناځوانمردانه ډول ونيول شو او په غزني کښي له خپلو نهو تنو ملګريو سره په شهادت ورسول شو . موږ په داسي حال کښي چي د استاد مزاري شهادت د جهادي سرلاريو له جملي نه يوه ستره او نه جبرانيدونکي ضايعه ګڼو ، دغه پيښه دنړيوال کفر د خوښي له پاره په نا آګاهانه ډول دځيني عناصرو له خوا دجهاد ، اسلام ،مجاهدينو ، دهيواد دخاوري دتماميت اومذهبي اونژادي جنګونو اورته لمن وهل بولو .

تراوسه زموږ مؤمنو هيوادوالو فکر کاوه چي دغه نوي راولاړشوي غورځنګ شايي د خپل منځي جګړو پرخلاف د ردالعمل په توګه راپورته شوي وي اوکيداي شي چي په هيواد کښي دسولي اوامنيت د رامنځته کيدو لامل هم شي ، خو هغوي ورځ په ورځ دخپلواعمالو په نتيجه کښي زموږ مسلمان ملت ته داسي شواهد په لاس ورکوي ، چي ملت ته يري دسوء ظن اوشکمنتيا پيداکيدلو حق حاصل دي ، ځکه دوي وچ اولانده په يو ډول سيځي .

دمفسد اومصلح فرق نه کوي لاچي خپل محسنان هم وژني او هغوي هم چي تعهد او ژمنه يې ورسره کړي وي ، له آدمه تر دي دمه دا نړيوال منل شوي اصول دي چي هيڅوک هم حق نه لري چي د خپل دښمن استازي اوسفيران ووژني اوترديو سره جفا او بي وفايي داده ، چي څوک خپل متعهدين او يا هغوي چي ور سره يو ځاي شوي وي اويا يي پناه ورسره اخيستي وي ووژني ، او په ځانګړي ډول پښتون قوم پخپل تاريخ کښي ددي خبري ساري نه لري چي کله دچاکور ته دهغه دښمن هم پناه وروړي وي او هغه دي ورته امن ورکول خولا څه چي ګناه هم پخښلي نه وي اوله دښمني نه دي ورته تير شوي نه وي، په پښتانه قوم کښي دود دادي چي کله کوم کمزوري دخپل دښمن له ويري له کوم دريم ګړي سره پناه واخلي ، بيا يي تړوله دښمني اوتوره سپينه دهماغه دريم ګړي پر غاړه وي . بندي کول او وژل خولا لري څه چي دعقل نه پورته خبره ده . داستاد عبدالعلي مزاري دشهادت په توطيه کښي چي کوم عناصر لاس لري هغوي بين المللي بشري اصول ، اسلامي اصول او پښتني دودونه تر پښو لاندي کړي دي او دا پيښه دپښتانه قوم له پاره يوه ننګينه پيښه ده .

نړيوال کفر خپلو شيطاني اهدافو ته د رسيدو له پاره زموږ له مخالفتونو نه په اعظمي توګه استفاده کول غواړي او په دي ډول د بي باوري او بي اعتمادي په فضا کښي نه يوازي داچي زموږ جهادي مشران يوبل له منځه وړي لاچي په ګانده کي د هرډول سولي اوروغي جوړي درامنځته کيدو شرايط هم له منځه وړي .

دهمدغو اختلافاتو په نتيجه کښي نړيوال کفر پردي بريالي شو چي د کونړدسردرو شاهين مولوي جميل الرحمن دخپل يوتن ګمارل شوي په وسيله په شهادت ورسوي او دوژني پړه يې پرمجاهدينو واچوي ،دادي اوس داستاد عبدالعلي مزاري شهادت داستعماري توطئودونه کړي ده چي له يوي خوا دمجاهدو مشرانو له منځه وړل دي اوله بلي خوا کيداي شي د شيعه مذهبوروڼو د بي باوري اوستر پاڅون لامل شي ، چي دا به په هيواد کښي پر موجوده جنګونو دمذهبي اونژادي هغو يوه بله ور زياتيدنه وي .

اوس هم وخت دي چي زموږ جهادي مشران دنړيوال کفر دغه توطئي درک کړي اوپوه دي ديوهيږي چي استکبار کله هم وغواړي تاسي دخپلو ظاهري مخالفينو په وسيله په ډيره آساني سره له منځه يوسي، خو په دي شرط چي ستاسي تشتوالي داستکبار د پلانونو دناکامي لامل نه شي ، هيله ده زموږ جهادي مشران اوټول مؤمن ملت به داستاد عبدالعلي مزاري شهادت ته په سطحي نظر نه ګوري بلکي ديوي ستري او نه جبرانيدونکي ضايعي ترڅنګ به پردي خبره فکر کوي چي په هر ډول کيداي شي دجهاد ،اسلام ، مؤمنو هيوادوالو اوملپوتي شهيدانو دمقدسو اهدافو دلاسته راوړلو اوداسلامي نهضت دنخبه اولايقه افرادو دساتني په خاطر يو بل ته د وروري لاسونه ورکړي او له خپلو ځانګړيو خپلجاريو اوخپلسريو نه تيرشي او د افغانستان دمسلمان دښمنيکو او دجهاد داهدافو دتحقق له پاره کاروکړي.

نگاهی به تحولات جاری افغانستان

عبدالعزیز

ازآوانیکه حزب اسلامي افغانستان بجهت مقابله بامکائید کفارودست نشاندگان شان در افغانستان وتحقق حکومت اسلامي وغیروابسته به قدرتهاي شیطاني غرب وشرق باتصب العین عالي وجهان بیني اسلامي بحیث یك تنظیم سیاسي عرض اندام کرد بمنزله خارچشم غلامان اغیاربوده و کفارجهاني پیوسته کوشیده اند تاذریعه توظیف اجنتان بي غیرت وبي عفت خودجلوپیشرفت این نهضت رابه نحوي ازانحا سدنمایند ونگذارند درخدمت مردم وطن ورشد اسلام گرائي بسطح جهاني وسعي درارتقاي سطح دانش جوانان باآن ایده واندیشه که داخل میدان شده اند - درعمل ثابت شوند وهمیشه درایجاد دردسربه این تنظیم ازهیچ عمل غیرانساني دریغ نورزیده اند .

چون سنت خداوندي طوري جاریست که همیشه اشخاص باایمان ونهضت هاي سازش ناپذیربادشمنان خدارابه ابتلاأت زیادي مبتلا نموده تاذریعه صبروتوکل بخداوند" ازآزمایشات موفقانه بدرشده ودرفرجام شاهد پیروزي رادر آغوش کشیده اندویاگذرازهرابتلا وسختي که درجریان مبارزه به آن مواجه شده اند نه تنها خلل وسستي درارادهٔ شان رونما نگردیده بلکه بمراتب ازگذشته قوي ترویاحوصله ترمي شوند وسرانجام بمرحله اي مي رسند که سائرین رارسیدن بدانجابه سهولت میسرنیست .

دربیت مثال میخ که هرقدرباچکش بفرقش بکوبند به همان پیمانه محکم مي شود بهمین ترتیب چکش هاي استعمار به اشکال مختلف گاهي بابرخوردهاي روباروي کمونستان روسي وچیني وگاهي بانفوذ عمال غرب وشرق درصفوف خودنهضت بصورت متداوم درفرق حزب اسلامي فرود آمده امابرخلاف انتظارمرتجعین که شاید حزب رادرصحنه هاي سیاسي ونظامي ... بشکست مواجه نموده ودرآخرازصحنه اش بدرسازند ، حزب باگذر ازهرفتنه ' منظم تر وبیدارتروقوي ترازگذشته شده است .

درپهلوي برخورد هاي نظامي باحزب اسلامي به اشکال وبهانه هاي مختلف ، دشمن کوشیده باتبلیغات شنیع ودورازحقیقت حزب ورهبریت آنرا درنظرمردم منفورسازدویازهم بسنده نکرده باکمین گیري هاي ناجوانمردانه وانفجارات مهیب درمقابل دفاتروراه عبورومرور رهبریت حزب خواسته اند به هدف پست خودنایل آیند که این تیرشان نیز لله الحمد بفضل خداوند (ج) نه تنها به هدف اصابت نکرده بلکه باعث هوشیاري وشجاعت نهادهاي اطلاعاتي ونظامي این تنظیم شده است .

چه خوب بجاگفته اند :

پاشاري واستقامت میخ
سزدارعبرت بشرگردد
برسرش هرچه بیشترکوبند
استواریش بیشترگردد

همانطوریکه حزب اسلامي جهت تحقق آرمان هاي اسلامي اش پیوسته کوشان بوده وهرگز خستگي احساس نکرده وبدون خوف وهراس ازتهدیدکفار براهش ادامه مي دهد بهمان اندازه قدرت هاي طاغوتي ازین نهضت احساس خوف وهراس نموده بیحد درتلاش اندکه بهروسیله ممکن بوي ضربه زده وازپایش بیاندازند .

لذا بعدازشکست روس ها که امریکا باراین مسئولیت ذلیل رابدوش مي کشد تمام قوایش رادربرکرسي نشاندن اهداف شومش زیرپوشش (نظم نوین جهاني) بکارانداخته است .

واماازینکه ازسرمایه گذاري بالاي ائتلاف تابرضد حزبش بجنگاندواسلحه اش راکه درطول جهاد مسلحانه بدست مجاهدین رسیده به این ترتیب محونماید ، کاري راازپیش برده نتوانست .

بابیزاري ازرهبران ائتلاف مبادرت بعمل قبیح وخطرناکتري دیگري نمود ودرین راستا ازتجربه استعمارکهن کارانگریز که هماناسلمانان راذریعه نوکران وطن فروش وبیدین خلع سلاح نموده بودند استفاده کرده این بار بادرنظرداشت تقاضاي زمان وسطح داناني مردمان نوکران خود را بااسلحه مدرن تر وپول وامکانات وافرتروشیوه هاي بمراتب ازگذشته ها ناجوانمردانه تر وارد میدان کرده اند.

وبااستفاده ازعقیده مردمان ساده که بیشك ازمهارت کمونیستي نشئت مي کند باقساوت ووحشت زایدالوصف مردمان رابه تسلیمي وخلع سلاح واداشته وسرانجام برضدرهبریت حزب اسلامي جهت حمله نهایي وفیصله کن آمادگي دارند گرچه ظاهراً مقابل همه ازخشونت کارمي گیرند اما درقسمت منافقان که قبلاً باایشان تفاهم کرده اند ودرجریان جهاد نیز مخالف روسها نه جنگیده اند وهمیشه درمنافقت وآزارمردم کوشیده اند این خشونت شکل نمایشي را دارد فقط صرف خیال محوحزب رادرسرمي پرورانند. اما ان شاء الله خداوند (ج) حزب اسلامي را ازین فتنه نیز نجات خواهد داد وباعث ثبات واستقامت بیشتررهبریت محبوب و فردفرد حزب اسلامي شده وبالاخره حق بحقدارخواهدرسیدودشمنان براي ابد طعم تلخ شکست وذلت راماانند روسها چشیده و توانائي مقابله رادرمرحله نضج وپختگي این حزب درجهات مختلفه سیاست ازدست خواهندداد .

زیرا خداوند دشمنانش راپیروزي هاي عارضي نصیب نموده وپیمانه شقاوت شانرا پرومستحق ذلت دنیا وآخرت مي گرداند ومسلمانان راباشکست هاي جزئي وتحمل مشکلات پیروزي نهائي عنایت فرموده ونعمت خودرا بالاي شان تکمیل و سرخروي دنیا وآخرت شان مي نماید.

پس برمسلمانان خاطرنشان است تاازتبلیغات حلقات مرتجع جهاني ومنطقه ينفع آشوبگران که به آب وتاب صورت مي گیرد اندیشه نکرده باتوکل به خداوند واعتمادبوعده برحق قرآني منتظر پیامد هاي آینده که بیشك حق درجایش قرارخواهد گرفت باشند . چه بسا ازحالات که ظاهراً تحملش برماناگوار است بخیرمابوده وبسا ازحالات که پسندماست درفرجام بنقصان مي انجامد ودرین مورد خداوند فرموده : (وعسي ان تکرهوشيء وهوخیرالکم وعسي ان تحب شيء وهوشرالکم والله يعلم وانتم تعلمون) فقط باایمان راسخ بحکمت هاي خدائي درحق مجاهدین واقعي دعاکنیدوبس ! به امیدپیروزي مسلمانان ونابودي منافقان)

طالبان واندیشهٔ فتح کابل

فایق

گروه طالبان که تحرکات نظامي شان راشش ماه قبل ازولایات جنوبي وغربي کشورآغازنموده ومعجزه آساسوي کابل پیشقدمي نمودند اینك درنخستین مصاف وبرخورد خویش باتفنگ داران اداره کابل سخت شکست خورده واز داخل شهر کابل عقب زده شده اند . پیشروي گیج کننده طالبان تادروازه هاي کابل که همه ازآن بهت زده وحیران شده بودند چنان همهمه وسروصدایي عجیبي رادرسطح دنیا بوجود آورده بودکه بیشترمردم تصورمي کردند رباني بدون چون وچرا شهرکابل را دراختیارآنان قرارخواهد داد. اینکه طالبان درتصرف بیشترازده ولایات کشورظاهراً به کدام مانعي عمده وبزرگي مواجه نشدند نزد اکثریت مردم بویژه سران اداره کابل نیز شکل معمارادداشت ودارد . به هرحال طالبان به هرنحوه که بود خودرا به کابل رسانیده پیوسته اعلان مینمودندکه مسعود قوماندان نظامي اداره کابل سلاح وامکانات جنگي خودراتسلیم ایشان نموده وخود نیز باجمله رفقا وهم پالکي هایش درمقدم آنان (طالبان) سرانقیادوتسلیم فرونهند .

اساساً طالبان که گروهي اندکم تجربه بایست قبل ازآنکه بانخوت وکبر دعواي کابل گیري را سرمیدادند اندکي خودشان راباافکار ونظریات مسعود وآنهائیکه درركاب وي درمدت کمترازسه سال باتمامي مجاهدین تنظیم هاي جهادي جنگیده اند، آشناساخته واقلاً این معلومات نزد شان مي بودکه باچه کسي دارند مصاف مي دهند. طالبان دردنیاي بي خبري ظاهراً به حرف هاي سران اداره کابل که قصدداشتند ازخیره سري ایشان استفاده نموده وتوسط آنها رقیب هاي سیاسي خودرا بکوبند کاملاً فریفته شده واین پندارغلط غافلگیرشان کرد.

مسعود که طراح ومجري تمامي نقشه هاي جنگي اداره کابل به شمارمي رود ازآغازفعالیت هاي نظامي خوددرافغانستان تاکنون مخالفین وبدخواهان خویش را درموقع مناسب ازسرراه خود برداشته است .

سران اداره کابل باآغاز تحرك نظامي طالبان درقندهار باآنکه قرباني وخلع قدرت ملانقیب قوماندان ایشان رادرقبال داشت تازمانیکه خطر جدي آنان (طالبان) متوجه شهرکابل نگردید دررسانه هاي خبري شان طالبان را فرزندان صدیق ملت و منادیان صلح وآشتي خطاب میکردند، موقف گنگ اداره کابل به مردم چنان ذهنیت داده بودکه فکرمي کردند گروه طالبان درنقش پیش مرگان ومدافعان حکومت کابل به پاخواسته ومیخواهند مخالفین آن رژیم را سرکوب نمایند اماهمینکه مخالفین رژیم کابل (شوراي هماهنگي) به امید دست رسي به صلح وآشتي خط مقدم جبهه شان را دراختیار طالبان قراردادند وچندسنگرعقب نشستند اداره کابل بایك ضربه کاري طلسم معمایي طالبان رادرهم شکست ومنادیان صلح وآشتي !! راکه تاچند روزقبل ازآنان مصرانه تمجیدوتقدیرمینمودتاتپه هاي خیرآباد وریشخور عقب راند .

طالبان به اندازهٔ بي مروت ومغروراند که تاهنوز باهرکسیکه ازآنهاحمایت کرده بعوض قدرداني وستایش ازهمکاري هاي آن ،باتیرجفا ونامردي پاسخش گفته اند؛ چنانچه آقاي مزاري رهبرحزب وحدت اسلامي علي الرغم همکاري اش باایشان

وي را به طور ناجوانمردانه به شهادت رسانید

به گمان اغلب باوجود تسلط طالبان دربیش ازده ولایات کشوروآوازه پیشقدمي شان درحوزه جنوب غرب کشور (مناطق تحت کنترول اسماعیل خان) دبدبه ورعب وخوف شان درهم شکسته وبسیاربعید است که بتوانند بزعم خویش شهرکابل را فتح نمایند. شکست طالبان دربرابرنیروهاي اداره کابل باعث خواهد شد تادرولایات تحت کنترول شان نیز تحرکاتي براه افتیده وبدین ترتیب قلمرو نفوذوسیطره شان محدود گردد .

اگربه حقیقت تن دهیم پیشروي دراماتیك طالبان درساحات جنوب وجنوب غرب کشور بخاطر آن بودکه مردم آنسامان ودرمجموع ملت مسلمان افغانستان ازدرگیري هاي میان گروهي مجاهدین وازبدنظمي وچپاول هستي ومنال شان توسط دزدان مجاهد نما رنج مي بردند ازهمینرو زمانیکه طالبان بااندیشه خاتمه جنگ وتأمین آرامش وامنیت سربرافراشتند مردم باآنهاهمراهي نموده وحمایت شان کردند .

اماحالاکه قضیه برعکس آنست ودست اجانب ونقش اسلام دشمنانه گروهك هاي مشبوه ومشکوك درتحرك آنهانمایان گشته است . احتمال قوي وجود دارد که به علاوه نفرت وانزجار مردم ازایشان . حلقات متعهد به جهاد واسلام که یك عمر دربرابر رژیم کافر ودست نشانده روسها رزمیده اند بافروگذاشت بگومگوهاي ذات البیني شان سرازنوباهم تعهد بسپارند که بخاطر اقامه قانون خدا وزدایش بذرهاي کفروشرك آنچه راطالبان ظاهراً عنوان مي کنند به تفاهم وهمکاري همدیگربدست بیاورند وملت را ازین مصیبت جانکاه نجات بدهند .

مابه صفت مسلمان اعتراف مینمائیم که واقعاً مجاهدین دراهداف سترگ وعالي یکه بخاطر تحقق آن جهاد کرده بودند بصورت همه جانبه توفیق حاصل ننموده ، جنگ هاي بي حاصل في مابین شان باعث سرافگندگي شان شده وازاسلام وجهاد تصویر معکوسي درسطح ملي وبین المللي رونما گردیده است؛ ولي این هرگز بدان معني نیست که ملت مسلمان افغانستان بخاطر اشتباهات وانحصارطلبي بعضي مجاهدنماها باقوانین روح نواز ونجات بخش اسلام وداع گفته ترجیح دهند که باردیگر گماشتگان اجانب درعباوقباي اسلامي وارد صحنه شده کیان وهستي معنوي شان را نابود سازند.

طالبان بجاي ایجاد تأمین امنیت وصلح درکشور شرایط راقسمي بارآورده اندکه خطر تجزیه کشور محبوب ودوست داشتني مارا تهدیدمي کند .

سران اداره کابل بایست درین لحظات حساس گذشته هارا فراموش نموده راهي رادر پیش گیرند که مایه اطمینان کلیه گروههاي جهادي واقع گردد تاباشد که به اثرمساعي مشترك همه مجاهدین دست اجانب ازسرملت ما کوتاه شده وافغانستان همچنان متحد ویکپارچه باقي بماند .

دملت د بې وسلي کولو پلان

دجهاد ،مجاهدینو او اسلامی نهضت پرخلاف توطیه

انس

که څه هم تیر دري کلونه زموږ د اسلامي انقلاب په بهیر کښي هغه توره او خونړي دوره ده ، چي د جهاد ، انقلاب ، اسلامي نظام او مجاهدینو سپيڅلیونومونو او مفاهیمو ته يې سخت زيان ورساوه او په تيره دغه دري کلني د خپلسري او خپلجاري دوري د اسلام دښمنانو ته د بدو او ناوړه تبليغاتو له پاره شرايط برابر کړل ، نه يوازي په دغه موده کښي زموږ د مؤمن ملت د قهرمانو مجاهدينو پر خلاف زهرجن تبليغات وشول ، لا چي هغو ناوړه ، کرغيړنو او وطن پلوريو څيرو ته يې هم يو ځل بيا د ځانونو منظم کولو شرايط برابر کړل ، چي څوارلس کاله يې د روس په څولي کښي زموږ دميړني هيواد د پلورني په نتيجه کښي تير کړي وو او اوس کله يو او کله بل ځاي د اسلام او وطن د دښمنانو له ګريوانونو نه سرونه راباسي او ددي پر ځاي چي زموږ مجاهد ملت د هغوي دمحاکمي غوښتنه کړي واي ، برعکس د مجاهدينو د بي وسلي کولو او محاکمي لا څه چي د جهاد ، مجاهد اسلام او اسلامي نظام دمعکوس ځرګندولو له پاره سره لاسونه ورکوي .

تقریباً یوه نیمه میاشت کم دري کاله پوره کیږي ، چي زموږ په میړه زیږوونکي هیواد کښي دمجاهدینو خپلمنځي جګړي دوام لري ، په دغو جګړو کښي زیات تحولات او بدلونونه رامنځته شول ، ائتلافونه او اتحادونه وشول او مات شول ، د حکومت اونظام د جوړولو له پاره طرحي او پلانونه جوړ شول او تر پښو لاندي شول ، دجهاد او افغانستان داخلي او بهرنيو دوستانو اود بين المللي ټولني د سولي هڅونه فعاليتونه بريالي کيږي نو "نور علیٰ نور" خو که له ناکامي سره مخامخ کيږي ، لازمه ده چي ملامت او پر جګړي ټينګارکوونکي لوري باید ملت ته وربه ګوته کړي ، چي ملت ددغه مخمسي نه نجات ومومي او دهماغه لوري پرخلاف قيام وکړي ، چي د هغوي دجګړي غوښتني له امله د جهاد انقلاب اسلام اوميلیوني شهیدانو اهداف له خاورو سره خاورې کيدل .

خو د سولي دغو هڅونو له يو څو ورځو منځو ترړواوميلمستياو پرته نورهيڅ ونه کړل اوکله يې چي هڅي له ناکامي سره مخامخ شوي دي غلي خپلو کورونو ته تللي او زموږ مظلوم ملت يې د اختلاف ،اختناق او جګړي په خونړيو لمبو کښي پريښي دي ، همدا لامل دي چي نن نور او سبین اوخاين اوصادق په يوه لينده ويشتل کيږي او په عمومي ډول دمجاهدينو د بي وسلي کولو له پاره نړيوالي توطئي په کار اچول کيږي .

زموږ مجاهد ملت دکفري نړي په اند يوه ستره ګناه کړي ده اوهغه دا چي پخپله ايماني او اسلامي جذبه يي د روس په څير يونړيوال ستر مادي ځواك ته ماتي ورکړي ،کمونيزم ته يې شکست ورکړي دي ، زموږ د مجاهد ملت د قربانيو په نتيجه کښي د مرکزي آسيا اوختيزي اروپا هيوادونو آزادي تر لاسه کړي دي ، ددغه مجاهد ملت د ايماني جهاد نه په الهام اخستو سره په کشمير ، بوسنيا ،چيچين ، تاجکستان ، الجزاير ،مصر، يمن ، برما او نورو کيږي مسلمانو مستضعفانو مقدس جهاد پيل کړي او دالهي نظام د قيام له پاره را پورته شوي دي ، او همدا علت دي چي اوس کفري نړي يوازي اسلام دخپلو شومو اهدافو په مخکي خنډ بولي ، اودناټو سازمان دهند، اسرائيلو اوامريکا جاسوسي اداري دنړيوال اسلامي نهضت پرخلاف د هراړخيز جنګ اعلان کوي او يوازي مسلمان مبارزين خپل لومړي درجه دښمنان ګڼي .

زموږ دمجاهد ملت د بي وسلي کولو پلان دهمدغو کفري توطئو يوه کړي ده ځکه کفري نړي غواړي چي د جهاد او اسلام د بيا ټانديدو دغه مرکز له ناکاميو اوبد نامېو وروسته له منځه يوسي ، زموږ د مجاهد ملت قهرماني دخلکو له اذهانو او باسي ، مجاهدين خائنين اوهيواد پلوري د پرديو مزدوران معرفي کړي ، نو په دغسي حالاتو کښي چي د جهاد ، اسلام ، مجاهدينو او اسلامي نهضت پرخلاف يوه ستره توطيه دعملي کيدو په حال کښي ده بايد ټول مجاهدين داسلامي نهضت غړي او پر اسلام مين او زړه سواندي ځواکونه يو بل ته لاسونه ورکړي او دغه ستره ، توطيه له ناکامي سره مخامخ کړي.

دچیچن جګړه دوامداره ده موږ به یې لس کاله پر...

ژیرینوفسکي : درواغ، درواغ ! دېلي اوريدلويه شان مرميوڅخه بعدهلته دګرګي سپيانو موجوديت نورنشته ،طبعاً چي تني به وي داهم باالاخره جنګ دي .

شپيګل : دپوځي افسرانو څخه ډېروکسانو نه بواځي ګورموف اوالکساندرلیبد ستاسي دغه اوامرقبول نکړل چي بې ګناه خلك بمباري کړي وادشرم ځاي ندي ؟

ژیرینوفسکي : که چيري زه دقوماندي آمرواي نوهمدااوس به مي دګروژني په موقعيت داسي بولوي بم خلاص کړاي واي چي نه سپيان اونه هم تني اولاشونه پاتي واي يوازي يو بم .

دادبلتسين اوګراچوف احمقتوب دي چي هغوي تراوسه پوري دتنواوسپيانو دپاره ځاي پري ايښي دي .

که داکارمايوري اړه لرلاي نوتاسو غوندي ژورناليستان به هم نه واي هيڅ يوخبرنګاربه هم نشوکولاي چي دروسي پوځيانوعملياتي ساحي ته راشي .

شپيګل : موږ هلته وو خو دداسي شيانوڅخه چي تاسي ادعاکوي يوذره هم څه ندي ليدلي داسي بې اسناده اوناثابتيدونکي نفرت آميزه خبرونه په روسي دپروپاګندونو څخه دي .

ژیرینوفسکي : داخبرونه بايد نشرشي خوتاسي ددااسي شيانوکنټرول نه غواړي .

شپيګل : څه وخت به په راتلونکي کي دروسي اتباع اجازه ولري چي انتخابات وکړي ؟

ژیرینوفسکي : موږته غواړو چي انتخابات پاي ته ورسوو دبلتسين ډول راي ورکونکي موږ يو . څه دپاره انتخاباتوته نورادامه ورکړو ؟

شپيګل : څنګه ! څوك چي منتخب شوي وي هغه دتل لپاره وي ؟

ژیرینوفسکي : دتل لپاره بايد نه وي . مګر لس کاله نورشه په خوندسره .

شپيګل :دروسي اساسي قانون دانتخاباتواجراکول يو ضروري امر ګڼي ؟

ژیرینوفسکي : په هغه صورت کي چي دملك وضعه آرامه وي موږ اوس په يوجنګ کي ښکيل شوي يو . او دابايد موږنهايي فيصلي ته ورسوو داجګړه دوامداره ده موږ به يې اوس لس کاله مخته بيايو .

شپيګل : ديومسلکي فرد په صفت تاسي دګروژني په خلکوڅه کول غوښتل ؟

ژیرینوفسکي : دمثال په توګه مابه اوبګي بيونکي ګازاستعمال کړاي واي . مابه دګروژني په ښارسل داسي بمونه غورځولي واي چي ښار بالکل خالي شوي واي . موږ دداسي بمونوپوري غټي ذخيري اوډك ګودامونه لرو .

شپيګل : تاسي وايي چي چيچن هيڅکله مستقل اوآزادنه وو دابدي بالدي دليل نشي کيداي چي کلي اوښارونه دي ويران او ترخاورو لاندي شي ؟

ژیرینوفسکي : چيچنيان اصلاً خپله جدايي نه غواړي دغه يوازي مافيابانددي چي داستقلال غوښتنه کوي .

شپيګل : په څه ترتيب غواړي چي په راتلونکي کي دقفقازدغه ناآرامه سيمه دخپلي قبضي لاندي راولي ؟

ژیرینوفسکي : هلته به دقفقاز حکومت جوړيږي چي جنرال البرت مکشوف به يې ګورنروي .

شپيګل : هغه داکتوبر ۱۹۹۳ دکودتاه جنرال ؟

ژیرینوفسکي : هو؛ همدارنګه به په شمالي قفقازکي چوپ اوچوپتياکيږي .

شپيګل : لکه څرنګه چي په هديره باندي وي ؟

ژیرینوفسکي : مکمل نه چيچنيان به راځي اوموږ څخه به دسلاح اخستلو هيله کوي بيابه انګوشيا راځي، دوينه به هم موږسلاح ورکوو، اودوي به دغه وحشي ټبرونه (قومونه) په غروکي په توپونو سره ولي اوبيابه ددي ځارنه موږ ددوړين سره ګوو. بياکه داهم ونشي نوخامخا به چوپ اوچوپتيا هلته مسلط کيږي .

شپيګل : دچيچين اکثريت خلك غواړي چي نورداسکو سره هيڅ پيژندګلوي ونلري ؟

ژیرینوفسکي : څوك داخبره کوي ؟ هغوي روسانوسره محبت ساتي کله چي په ۱۹۹۳ ګروژني کي وم نوهلته زمادهرکلي دپاره يي اختياره ټول استديوم ډکوچت شو. هغوي صدام حسين ، جوهردودايف اوماته احترام لري، نور هيڅ نه .

شپيګل : تاسي وويل چي قفقازته دروسي عسکرودمورال اوچتولو لپاره زم . آيا داضروري ده چي په هغه ځاي کي به هغوي خامخا ستاسو دنظر سره سم داسي دحيرانتياوړجګړه وکړي ؟

ژیرینوفسکي : په روس عسکروکي درهبري خلا موجوده ده . اعلي قوماندان دوه زره شوبدي هغه تراوسه پوري دامرورکولو په هکله زړه نازړه کيږي .

شپيګل : تاسي دايه جدي توګه فکرکوي چي په ګروژني باندي يرغل دروسي عسکرو شهرت زياتوي ؟

ژیرینوفسکي : ولي تاسي خپل ځان پريشان اوعصبي کوي ؟ ګروژني دروسيې يوښار دي لکه څنګه چي دهغي نوم ويل کيږي « ويره» موږ، کومه ټوکه نه کوو دغه ښار خوفناك مساشويدي . نوهلته به ټول چوپتيا غوره کوي .

شپيګل : دتيري اووحشت هغه پخواني څيري نن بيا دنوي روسيي قفقاز سيمه کي مخ په زياتيدو دي آيادايه تاسي هم ترتاثيرلاندي راولي ؟

ژیرینوفسکي : همداسي ده لکه څنګه چي بايد وي .

روسيه هيڅکله هم نرمه اوکمزوره نه وه ، روسيه ديته ضرورت نلري چي محبوبه شي ، روسيه بايد خپله دواړخيزه ښکاره کړي اودنيا هم بايد دروسي څخه ويره ولري . روسيه داروپا ژاندارم ده .

دفراه ولایت...

پاڅون دي ګوددي مستقل پاڅون ترشا دهرتنظيم مسلمان کسان ولاړ دي اوهري همکاري ته هغوي تياردي .

ملاخيرالله په هرات اوولارام کي دجنګونو په باب وويل : دفراه ولايت به بشپړډول تصفيه شوي ،چي مسئول ئي حاجي ملاحبيب الله آخند ټاکل شوي چي دهغه ولايت چاري سمبالوي .

خيرالله دشينډنډ دهوايي ډګرپه باب وويل : دشينډنډ هوايي ډګرته موږډي شوي اودهغه هوايي ډګرته الوتکي الوتلي نه شي کولاي .

په اسلام آباد کی دایکو په غونډه کی...

دطالبانو نظر په دي اړه څه دي ؟ وويل : موږ په دي باره کي ويلي شو، چي رباني په خپله خوښه راغلي رباني دافغانستان دحکومت نمايندګي نه شي کولاي .

حقاني زياته کړه : رباني په خپل سر پاکستان ته راغلي اودهغه سفرموږته تائيدوو بلکه ردوويي رباني نه شي کولاي دافغانستان نمايندګي وکړي هغه نه شي کولاي دافغانستان په نمايندګي باندي په دي کنفرانس کي ګډون وکړي .

آفات زبان

پیوسته بگذشته : "عدیل"

دشنام

ازاستعمال نادرست وغیراخلاقي زبان یکي هم دشنام دادن است، چه دشنام نه تنها زشت ترین ونازیباترین الفاظي است که اززبان صادرمي شود، بلکه اساساً باشان ورفعت مقام انسان نیز راست نمي آید وبه خصوص به یك فردمسلمان به هیچ وجهي نمي زیبدکه پرسبیل مزاح ویاهم اززوي قهروغضب به آن توسل جوید.

متاسفانه بعضي هاازروي مزاح به یکدیگردشنام میدهند وبدون آنکه احساسات شان جریحه دارشده وغیرت وعزت نفس شان تحریك شود، این عمل خویش را به عنوان نهایت صمیمیت ودوستي باطرف مقابل توجیه مینمایند، حالانکه این روش علاوه برآنکه ازنظراسلام مردود وقابل نفرت است ؛ هیچ انسان مهذب ودانشمندي هم نمي تواندآنراپذیرد وتحمل کند.

زیراگذشته ازآنکه دشنام دادن انسان راگنهکارمي سازد، بافطرت سلیم انسان هم سازگارنیست وبااحساس غیرت وعزت نفس انسان منافات دارد.

براي درك زشتي دشنام دادن کافي است که روایات زیررابدقت مطالعه نموده ودرمورد آن غوروفکرکنیم ودرروشني آن به اصلاح زبان خویش بپردازیم.

رسول الله صلي الله علیه وسلم مي فرمایند :

«وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلي الله علیه وسلم «سباب المسلم فسوق وقتاله کفر». (متفق علیه)

ازحضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه روایت است که رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمود: «دشنام دادن مسلمان فسق وجنگ باوي کفراست».

اگرکسي به دروغ فسق وکفر رابه شخصي نسبت بدهد، اتهام وارده به خودش برمیگردد.

رسول الله صلي الله علیه وسلم فرموده اند :

وعن ابي ذررضي الله عنه انه سمع رسول الله صلي الله علیه وسلم یقول : «لایرمي رجل رجلا بالفسق اوالکفر الاارتدت علیه،ان لم یکن صاحبه کذلك» (رواه البخاري)

ازحضرت ابي ذررضي الله عنه روایت است که اوازرسول الله صلي الله علیه وسلم شنیدکه مي فرمود : هرگاه مردي مرددیگري را به فسق ویا کفرمتهم کند، اگرآن مرد فاسق وکافرنباشد این فسق وکفر به خوداوبازمي گردد.

همچنان گناه دشنام دوشخص که یکدیگرخودرا دشنام میدهند، بدوش آغازکننده دشنام است، شاید به این دلیل که کسیکه به دشنام دادن آغازمي کند درحقیقت طرف مقابلش راتحریك مي کند واورا وامیداردکه به عمل بالمثل بپردازد، البته تاوقتي ... کسیکه مظلوم واقع شده ومورد سب ودشنام قرارگرفته ازحدتجاوزنکند ودردشنام دادن ازآغازکننده دشنام زیادت نورزد، درگناه شریك نیست ودرصورت تجاوز ازحد هردودرگناه شریك مي شوند.

رسول الله صلي الله علیه وسلم درین رابطه مي فرماید :

وعن ابي هریرة رضي الله عنه ان رسول الله صلي الله علیه وسلم قال : «المتسابان ماقالافعلي البادي منهما حتي یعتدي المظلوم» (رواه المسلم)

ازحضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت است که رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمود :« دودشنام دهنده هرچه گفتند ،گناهش برآغازکننده دشنام است تاآنکه مظلوم ازحد تجاوزکند».

زشتي وبدي دشنام دادن راازین مي توان بهتردرك کرد که رسول الله صلي الله علیه وسلم آنرایکي ازصفات منافق بیان نموده است چنانچه درروایتي آمده است.

وعن عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنهما ان رسول الله صلي الله علیه وسلم قال : « اربع من کن فیه، کان منافقاخالصاً،ومن کانت فیه خصلة منهن، کان فیه خصلة من النفاق حتي یدعها، اذااوتمن خان، واذاحدث کذب، واذا عاهدغدر، واذا خاصم فجر» (متفق علیه)

ازحضرت عبدالله بن عمروبن عاص رضي الله عنهما روایت است که رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمود : «چارخصلت است که هرگاه درکسي موجودباشد منافق خالص است وآنکه دراوخصلتي ازین خصلت هاباشد دراوخصلتي ازنفاق است تاآنکه آنرا ترك کند. چون اماتني به اوسپرده شود خیانت کند، وچون سخن گوید دروغ گوید، وچون پیمان بندد پیمان شکني کند وچون جنگ کند دشنام دهد.

باید درنظرداشت که ازدشنام دادن مردگان هم منع آمده است.

رسول الله صلي الله علیه وسلم مي فرماید :

«وعن عایشه رضي الله عنها قالت : قال رسول الله صلي الله علیه وسلم : «لاتسبوا الاموات : فانهم قدافضواالي ماقدموا». (رواه البخاري)

ازحضرت عایشه رضي الله عنها روایت است که رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمود : «مردگان رادشنام ندهید زیرا آنان به آنچه پیش ازخود فرستادند، رسیدند».

